پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۱۲/۰۹/۱۳

# پښتو ژبه به څنګه معیاری کړو؟

د روان ۲۰۱۲ کال د سپتمبر پر اتمه نیټه د سویډن هیواد د **مالمو** په ښار کی د افغانانو درو فرهنګی ټولنو په ګډه علم او فرهنګ ته د کیمیاپوه، پوهاند ډاکتر خیرمحمد ماموند او دافغان وتلی لیکوال، تاریخپوه، شاعر او څیړونکی محمد معصوم هوتک د ویاړمنو خدمتونو د یاد او درناوی په موخه یو علمی – فرهنګی سیمینار جوړ کړی وو . دی سیمینار ته د یو شمیر نورو کسانو په ډله کی زه هم ور بلل شوی وم چی له کبله یی دټولو کوربه والو څخه مننذوی یم. دا دواړه کسان په داډول ستاینو او درناویو باندی ارزیدل او پکار وه چی د هریوه پراڅارو باندی بشپړی خبری وشی . د وخت د کمښت له مخی د پوهاند ماموند صاحب په اجازه چی زما دوست او د تور پیکی یار هم دی ، یوازی د هوتک صاحب سره تم او **«پرمعیاری ژبه د معیار په ژبه یوه څیړنه »** تر نامه لاندی دده د یوه کتاب د لوړ ارزولو په ترڅ کی می هلته دخپلو وړاندیزونو سره څو لنډی خبری وکړی. ښایی زما اندونه او وړاندیزونه به د ګډونوالو خوښ شوی وی چی په هره برخه کی یی په اوږدو چکچکو بدرګه کولم . ددی کبله هم ځان ددوی منتبار ګنم . **لاندی څو کرښی په نوموړی سیمینار کی زما د بیانیی منځپانګه جوړوی چی دادی د لوستونکو سره یی هم شریکول غواړم :**

محمد معصوم هوتک دلوست د پای ته رسیدو څخه را پیل بیا تر نن پوری د خپل فعال ژوند هره شیبه تاریخ ، ادب ، شعر او څیړنو ته سپارلی ده . لکه څنګه چی د ژوندلیک نه یی څرګنده ده ددغو نه ستړی کیدونکو شیبو د فصل څخه یی پریمانه اثار درمند شویدی . دده د لیکنو په سمندرکی د هری سلیقی والا لوستونکی د خپل ذوق سره برابر ملغلری موندلای شی . زما د پاره هم هلته ډیر څه شته چی هغه پرانیزم او په اړه یی خپلی اخیستنی د اوریدونکو او لوستونکو سره شریکی کړم .

اوس ګړی زه تر ټولو مخکی غوره ګنم دده دیوه هغه کتاب سره اړیکی ونیسم چی دامهال د ورځی توده خبره او رسنیو هم ډیره پرله اړولی ده . دا هغه **« پرمعیاری ژبه د معیار په ژبه یوه څیړنه »** ده چی په ۲۰۰۷ کال په کندهار کی د علامه رشاد خپرندویه ټولنی لخوا د زرو ټوکو په تیراژ خپور شوی کتاب دی او دنیکه مرغه اوس په بریښنایی ډول پرلیکه شوی هم دی . هوتک صاحب ددی کتاب په لیکلو کی اوږدی ستړیاوی ګاللی ، بی شمیره اخیستځایونو ته یی سر وهلی او دخپلی خبری پخولو ته یی په هره برخه کی بنسټونه لټولی دی . ددغو ټولو سرچینو څخه دی خالی لاس نه دی را وتلی بلکه لمن یی ډکه تری نه راوړی ده . هغه څوک چی ددی ډول چارو سره سروکار لری ، دده ستړیاوی او ستونزی ښه انځورولای شی .

زما په اند د پښتو په ژبپوهنه کی دغه دمعیار او معیاری کولو خبره هغه څه دی چی باید دا ګړی دپښتو ژبپوهانو دلومړی او ځنډ نه منونکو اولیتونو دلست په سر کی راسی . د نوی تکنالوژی پر لمن د پښتو ژبی په ځای ټاکلو کی همدغه د معیاری توب نشتوالی لویه ستونزه رامنځته کړی ، څکه نو ددی ژبی د ودی په اوسنی پړاو کی پکار ده له هرڅه نه وړاندی دمعیار چارو ته پام واړول شی . معیارته په دوو برخو کی دپام اړولو اړتیا لیدل کیږی . یو یی د لیکدود معیاری کول او بل یی د ګړدود . خو ددی دواړو برخو ترمنځ د معیاری چارو په عملی ډګر کی بیا لوی توپیر پروت دی . که دلیکدود معیاری کول د ژبپوهانو په همږغی سره په نسبتا اسانه توګه تر سره کیدلای شی خو د ټول هیواد په کچه په واحده ښه د ګړدود معیاری کول که ناشونی کار نه وی نو د اوږدو لسیزو او ان پیړیو تاریخی پړاو ته اړتیالری . ګډی اقتصادی اړیکی ، د رسنیو او په ځانګړی ډول د ږغیزو رسنیو پراختیا ددی پروسی په چټکولو کی ګټور رول لوبولای شی .

هوتک صاحب ددغه کتاب په ۳۵ مخ کی داخبره چی معیاری ژبه کومی ژبی ته ویلای شو ، داسی انځوروی : **«معیاري ژبه هغه منلې سوې ژبه ده چي ديوه ژبني قلمروپه هره جغرافيايي سيمه کي دپوهېدلو وړوي . . . . . اود همدې ژبي ټول ليکلي متون هماغه دمعيارپه نامه منل سوې املا او ګرامري نورمونه پالي»** . که چیری ما په ژبپوهنه کی ډیر لږ صلاحیت هم درلودلای چی له بده مرغه نه یی لرم ، نو ما به د معیاری ژبی ددی تعریف په پای کی یوه وړوکی جمله ور زیاته کړی وای چی ورسره سم به نوموړی تعریف داسی ښه اخسیتی وای : « **معياري ژبه هغه منلې سوې ژبه ده چي ديوه ژبني قلمروپه هره جغرافيايي سيمه کي دپوهېدلو وړوي او دټولو دغو سيمو بيلابيل ګړدودونه په يوه واحد ليکدود سره پری وکښل شی »** . ددی زیاتونی څخه می موخه داده چی په ګړدود کی به د اوس دپاره د الفبایی تورو د ږغونو او لهجو توحیدول د اقتصادی – ټولنیز پړاو و لانور پرمختګ ته پریږدو خو


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

لاس تر زنی به نه ورته کښینو . مګر دیوه واحد لیکدود درلودل د همدی ګړی بیړنی اړتیاده . دغی خبری ته هوتک صاحب هم پخپل کتاب ډیر پرځای پام اړولی دی .
د هوتک صاحب د څرګندونو سره سم ، داخبره د پوهیدلو وړ ده چی ژبه نه د ویونکو څخه جلا په مجرد ډول څیړل کیدلای شی او نه هم د نورو ژبو څخه جلا دا کار شونی دی . له همدی کبله سوچه او مجرده ژبه به ښایی دا مهال و نه موندل شی . پر یوه ژبه باندی د نورو ژبو اغیزی تر لویه بریده د دوو لارو څخه تر سره کیږی . یو د ګاونډو سیمو دژبی دلاری او بل په علم او تخنیک کی برلاسه ژبو ته د اړتیا د لاری . پښتو ژبه هم ددی دواړو لارو څخه اغیزمنه ده ، پدی توګه ویلای شو چی د لومړی لاری اغیز ورباندی تر دویمی لاری زیات دی . که د دویمی لاری اغیز دیوی عینی مثبتی اړتیا له مخی ترسره کیږی خو د لومړی لاری اغیز یی بیا تر ډیره حده د یوی منفی بیوسۍ له مخی ترسره شویدی . د فارسی او عربی ژبو څخه د ننوتو یا « دخیلو لغاتو » لاملونه دادی چی د یوی خوا پښتو تر ډیره وخته یوازی شفاهی ژبه پاته وه او دخپلی وییپانګی د کمبود په پوره کولو کی یی فارسی ژبی ته اسان لاسرسی درلود ، د بلی خوا نه د اسلام سپیځلی دین د رارسیدو او دوګړو د اعتقاد په پخیدو سره دعربی لغاتو او جملو نه ډیر کار اخیستل یو ډول معنوی اعتبار او ان ثواب ګڼل کیدی .
زه خو پدی اند یم چی داګړی پښتو هغه د نژدی یوی پیړۍ مخکی بیوسه ژبه نده . په تیری پیړۍ کی د پښتو ټولنی په مټ او دیوشمیر وتلو پوهانو په زیار چی د ( ستورو ) پنامه ویاړل شویدی ، د لیکدود په ګډون په هره برخه کی تر یوی کچی کار ورته شوی او بډایه شویده . مګر ددی دپاره چی د نااړینو پور کړو لغاتو څخه خلاصه شی ، تر اوسه لا ډیر او نه سترې کیدونکی کار ته اړتیا لری . په همدی خاطر اړینه ده چی و نیولوجیزم ( نوی لغات جوړونی ) ته په علمی بڼه پام واړول شی او په مټ یی د پښتو پر اوږو د پردیو پورونو بار سپک او منت یی وربانډی کم شی.
نیولوجیزم ته کیدلای شی د دو اړخونو څخه وکتل شی ، یو داچی دعلم او تخنیک د پرمختګ سره سم باید د نوو رامنځته شوو لغاتو یا اصطلاح ګانود پاره په پشتو کی اړوند انډول لغاتونه ولټول شی لکه «**بریښنالیک**» د «**ایمیل**» دپاره. زه پخپله د ټولو هغو نومونو او اصطلاحګانو د پاره د پښتو لغاتونو د لټولو سره همږغی نه یم چی دعلم او تخنیک په برکت باید ژبی ته راننوزی . دا شیان نه یوازی ژبه کمزوری کوی نه ، بلکه لا یی بډایه کوی . زه دا تر لویه بریده اړینه بولم چی د هغوموجودو غیر پښتو ( **دخیلو لغاتونو** ) او یا ( **پور شوو لغاتونو** ) د پاره انډول پیدا یا جوړ شی چی د علم او تخنیک د پرمختګ جبر یی لامل ندی ، دا ځکه چی یو وخت پښتو ژبی د خپلی تیټی ویی پانګی د لوړولو په موخه دالغاتونه د خپلو اړتیاوو د پوره کولو په خاطر دمجبوری او بیوسی له مخی پور کړی وه .
اوس چی هغه بیوسی تر زیاتی کچی له منځه تللی ده ، باید دهغوی انډول داسی پښتو لغاتونه د نیولوجیزم په مټ را پیداشی چی د نومورې غیر پښتو لغات دپاره یو صلاحیت لرونکی ځای ناستی اوسی او قبوله شوی مانا یی هم په یوه په زړه پوری ږغ سره څرګنده کړای شی . دبیلګی په توګه د « عکس العمل » **د پاره** « غبرګون » ، **د** « قیام » **د پاره** « پاڅون » ، **د** « برنامی یا خط مشی » **د پاره** « تګلاره » او داسی نور خورا ښکلی ځایناستی لغاتونه دی .
نوی ځایناستی لغات باید موزون ژغ ولری او په ګرامر کی اسانه وکارول شی . داسی نوی لغاتونه لکه د «**جلبیو**» د پاره « **کړی وړی خوږی** » ، د « **راډیو**» د پاره « **ږغدبلی** » او یا د « **رباب** » د پاره « **شرنګ سوتۍ** » په نیولوجیزم باندی ملنډی وهل بولم . زما په اند په نیولوجیزم کی باید دا حتمی نه وی چی خامخا به د هر خارجی یا ( غیر پشتو ) لغات دپاره یو نوی لغات جوړیږی . د نوی لغات موندل یوازی د یوشمیر نا اړینو دخیلو او په پور اخیست شوو لغاتونو دپاره یوه بیړنۍ او ځنډ نه منونکی دنده ده . داځکه ، که موږ د معیارولو په لور ځو ، نو ښه به دا وی چی دا ستونزه هم تر اړینه بریده ورسره حل شی . ځینی فارسی ، عربی یا نور لغاتونه چی په پښتو ژبی کی ډیر ورننوتی او دچا خبره خیښی یی ورسره کړی او وینه یی ورسره شریکه کړیده لکه « **کتاب یا قلم** » ، کیدلای شی په خپل حال پاته شی . د ځینو لغاتو بڼه کیدلای شی دخپل تلفظ پربنسټ پښتو لیکدود ته واړول شی او د ژبی ملکیت ته وسپارل شی لکه د « **یعنی** » عربی لغات چی اوس یی « **یانی** » او یا « **معلومات** » چی « **مالومات** » یی لیکو . همدارنګه پکار ده د دا ډول اسمونو مفرد او جمع د پښتو ګرامری دود له مخی وټاکو لکه د « **حق یا متن**» جمع د «**حقوق یا متون**» پرځای « **حقونه** یا **متنونه** » ولیکو . پدی ډول کیدلای شی د معیار کار نسبتا اسانه او ستونزی یی کمی شی .
زه پدی باندی ښه پوهیږم چی د ( نوو لغاتونو ) پر جوړولو باندی دبشپړی همږغی ترلاسه کیدل د ژبپوهانو د پاره ساده خبره نده . پر همدی خبره باندی راپورته شوی نانډری د پښتو او پښتنو دپاره له بده مرغه ، کله ناکله د رسنیو په کچه تر قلمی او ان لفظی شخړو پوری هم رسیدلی دی چی داکار بیا زما غوندی بیوسه کسانو د پاره د ډیرو ناهیلیو لامل ګرځیدلی دی . ایا څه مشکل سته چی هوتک صاحب ولاړ شی د زیار صاحب سره د **منی د ونی تر سیوری** لاندی کښینی او یا زیارصاحب راشی د هوتک صاحب سره **دسیب د درختی سایی** ته کښینی ، دغی ستونزی ته په ګډه دحل لاره ولټوی او **هغه اتفاق مات کړی چی ګویا پښتنو پر بی اتفاقی باندی کړیدی** . ښکاره خبره ده چی د زیار صاحب او هوتک صاحب نومونه دلته سمبولیکه بڼه لری او دبیلګی په توګه یاد شویدی .

---



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ [maqalat@afghan-german.de](mailto:maqalat@afghan-german.de)
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پدی کی شک نشته چی دا ستونزه حلول غواړی ، خو دا ستونزه باید د ژبی د معیاری کولو مخه و نه نیسی . که د درختی تر سایی لاندی او یا د ونی تر سیوری لاندی وی ، دا یوه اړتیا ده چی باید اړوند ځیرونکی او ژبپوهان سره کښینی او د پښتو معیاری کولو ته لیځی را ونغاړی . پدی توګه کیدلای شی یو له سیوری نه اوبل له سایی نه لرې راووځی او یودبل په لور قدم واخلی . که موږ دمعیار کار د نیولوجیکی چارو تر بشپړیدو پوری وځنډوو او د پښتو ویونکو تر سیال کیدو پوری انتظار وباسو ، بیله دی چی وخت مو دلاسه ورکړی وی ، بله ګټه به پلاس را نه وړو .
**له همدی کبله زه پر ټولو پښتو ژبپوهانو باندی ږغ کوم چی دی کار ته هرځه لیځی راونغاړی او ددغه درانه بار په پورته کولو کی دهغو کسانو څخه هم مرسته وغواړی چی پدی چارو کی اوږدی تجربی لری ، داځکه چی د یوی خوا زموږ مسلکی ژبپوهان له بده مرغه دیوه لاس د ګوتو له شمیر نه هم زیات ندی او دبلی خوا نه دوی په یوه ټاکلی اداره کی سره ټرلی ندی . دغو لاملونو دستونزو بار نورهم دروند کړیدی اودا هغه څه چی زموږ درانه ژبپوهان یی باید په پام کی ونیسی.**
د هیواد د وتلو ځیرو د چوپړونو په ویاړ سیمینارونه او کنفرانسونه جوړول ، بیله شکه دستاینی وړ خبره ده خو زه وړاندیز کوم چی د پښتو دمعیاری کولو پر اړتیا باندی دی دبحث په موخه په راتلونکی کی یو ځانګړی سیمینار راوبلل شی . لکه ځنګه چی ددی ژبی دمعیاری کولو اړتیا ته هوتک صاحب اشاره کړی ، همدارنګه ټول هغه کسان چی په پښتو ژبه دلیکلو یا لوستلو سره سروکار لری ، د معیار نه شتون یی په کار کی خنډ ګرځیدلی او زوروی یی .
نژدی ټول د لوړو زده کړو لرونکی پښتو ژبی لیکوالانو ته په دری ژبه لیکل اسان ښکاری تر دی چی په پښتو یی ولیکی . که ځپل ځان راواخلم ، ما لومړنی ښوونځی د نوزاد په لیری او وروسته اولسوالی کی په پښتو ژبه لوستی ، لیسه می په کندهار کی په پښتو ژبه لوستی او دکابل پوهنتون کی تر یوه سمستر وروسته د لوړو زده کړو دپاره شوروی ته ولیږل شوم . شفاهی دری ژبه ما اصلا د مسکو دولتی پوهنتون په لیلیه کی دافغانی محصلینو سره په راشه درشه کی زده کړه. د کابل پولی تخنیک انستیتوت کی مجبوره شوم د دود سره سم په دری ژبه لکچر ورکړم او لدغه ځایه می په دری ژبه د لیکنو سره قلم بلد شو. سره لدی چی ډیری لیکنی دا مهال په پښتو ژبه کوم، خو باید اعتراف وکړم چی دا اوس اوس می د دری لیکنو ستندرد تر پښتو لیکنو لوړ دی داځکه چی دری ژبه د نیکه مرغه ترټاکلی کچی معیاری ده او پښتو لیکدود لا تر اوسه پوری له بده مرغه معیار شوی بڼه نلری .
د هوتک صاحب دا کتاب تر هغه څه ډیر بډای دی چی ما یی په لوړو څو کرښو کی یادوونه وکړه. هلته ډیر څه شته چی په ځانګړی ډول دلیکوالانو د جدی پام وړ دی . زه یی لوستل نه یوازی دلیکوالانو دپاره اړین بولم بلکه بیځایه به نه وی چی د لوړو زده کړو د ژبپوهنی په څانګو کی د یوه مرستندویه ( ممد درسی ) کتاب په توګه ونومول شی .
کتاب پدی ارزی چی پربیلابیلو ځپرکو یی اوږده بحثونه وشی چی له بده مرغه ددغی ننني غونډی له زغم نه بهر ښکاری . دا کار به پریږدو هغه په راتلونکی کی احتمالی رابلونکی ځانګړی سیمینار ته .
په ځیرنیزه برخه کی دکتاب دلوړو ارزونو سره سره د هوتک صاحب څخه د بخښنی په غوښتلو سره ، غواړم د کتاب یوی ډیری وړی نیمګړتیا ته هم دده پام راواړوم ، هغه داچی په کتاب کی د پښتو ژبی د اوږو څخه دفارسی او عربی ژبو دروند بار تر هغه لږ سپک شویدی چی ده یی دسپکولو توان درلود . که دی زما سره پدی اړه همږغی وی ، هیله ده په ځپلو راتلونکو لیکنو کی لږ فکر ورباندی . او که چیری راسره همږغی نه وی ، داچی پدغه برخه کی زه مسلکی صلاحیت نلرم، کولای شم ځپله نیوکه بیرته واخلم .
دنن دپاره همدومره .
د زغم نه مو مننه !


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ